**بسم الله الرحمن الرحیم**

# امارت

**(لومړۍ برخه)**

**(ژباړه)**

امام مسلم پخپل صحیح کې راوړي:

**عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِىَ اَللهُ عَنْهُ قَالَ: كَتَبْتُ إِلَى جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، مَعَ غُلاَمِي نَافِعٍ: أَنْ أَخْبِرْنِي بِشَيْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ ، قَالَ: فَكَتَبَ إِلَيَّ: سَمِعْتُ رسول الله صلى اللّٰه عليه وآله وسلم يَوْمَ جُمُعَةٍ، عَشِيَّةَ رُجِمَ الأَسْلَمِيُّ، يَقُولُ: «لاَ يَزَالُ الدِّينُ قَائِمًا حَتَّى تَقُومَ السَّاعَةُ، أَوْ يَكُونَ عَلَيْكُمُ اثْنَا عَشَرَ خَلِيفَةً، كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ». وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: «عُصَيْبَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَفْتَتِحُونَ الْبَيْتَ الأَبْيَضَ، بَيْتَ كِسْرَى، أَوْ آلِ كِسْرَى». وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: «إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ كَذَّابِينَ فَاحْذَرُوهُمْ». وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: «إِذَا أَعْطَى اللَّهُ أَحَدَكُمْ خَيْرًا فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ». وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: «أَنَا الْفَرَطُ عَلَى الْحَوْضِ»** (مسلم: 1822)

***ژباړه:*** *عامر بن سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه وايي: د خپل خدمت کوونکي نافع په لاس مې جابر بن سمره ته ليک ولېږه او پکې ومې ويلکل چې هغه څه راته بيان کړه چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه دې اورېدلي دي. هغه په ځواب کې وليکل: ما واورېدل چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د جمعې په ورځ تر ماسپښين وروسته په هغمه ورځ چې اسلمي سړی (ماعز) سنگسار شو، وفرمايل: «تر هغه وخته به دين دوام کوي، ترڅو چې قيامت راځي او يا پر تاسو باندې ۱۲ خلفاء حکومت وکړي، چې دوی ټول به قريش وي.» او همدارنگه وامې ورېدل چې فرمايل يې: «د مسلمانانو کوچنۍ ډله به د کسرا د پاچاه سپينه ماڼۍ يا د کسرا کورنۍ فتحه کړي.» همدارنگه وامې ورېدل چې فرمايل يې: «د قيامت تر راتگ وړاندې به دروغجن خلک راشي او له هغو وروسته متوجه اوسئ.» همدارنگه وامې ورېدل چې ويې فرمايل: «کله چې الله سبحانه وتعالی په تاسو کې يوه ته خير ورکړي، لومړی دې ځان او بيا دې خپله کورنۍ ترې برخمنه کړي.» او همدارنگه ويې فرمايل: «زه مخکې يم او تر نورو وړاندې کوثر حوض ته رسېږم.» (او اوبه چمتو کوم.)*

د رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه خبره (عُصَيْبَةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَفْتَتِحُونَ الْبَيْتَ الأَبْيَضَ، بَيْتَ كِسْرَى، أَوْ آلِ كِسْرَى) د هغه صلی الله عليه وسلم ښکاره معجزه ده او الحمدالله مسلمانانو د عمر رضی الله عنه په وخت کې هغه ځای فتحه کړ.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خبره (إِذَا أَعْطَى اللَّهُ أَحَدكُمْ خَيْرًا فَلْيَبْدَأْ بِنَفْسِهِ) د دغه حديث غوندې ده (ابْدَأْ بِنَفْسِكَ ثُمَّ بِمَنْ تَعُول) يعنې: لومړی يې له ځانه پيل کړه او وروسته دې له خپلې کورنی څخه. د (أَنَا الْفَرَط عَلَى الْحَوْض) جمله: (الفرط) د (راء) په فتح سره په دې معنا دی چې په هغه کې تر نورو مخکې يم او په دې تمه يم چې پر تاسو د کوثر اوبه وڅښنم. (فَرَط و فارط) هغه کس دی چې له خپل قوم وړاندې ځان اوبو ته رسوي، چې د اړتيا وړ اوبه برابرې کړي.

د (الدين قائما... أو يكون عليكم) جملې په اړه يو شمېر علماوو ويلي: (قائما) يعنې دايمي او تلپاتې، وايي (أقام شیء) يعنې هغه ته يې دوام ورکړ. د پروردګار دغه کلام «يقيمون الصلاة» او «إلا ما دمت عليه قائما» همدغه معنا ورکوي. پر همدغه اساس داسې ويل کېږي: د اسلام دين به همداسې دوام وکړي، تر دې چې قيامت راشي.

د (أو يكون عليكم)... په جمله کې (أو) د عطف لپاره د (وَ) په معنا دی. نو داسې ويل کېږي: (و يكون عليكم اثنا عشر) هغوی يې په خاص ډول ياد کړي دي، چې د دوی په وخت کې به د عزت او قدرت رامنځته کېدل او د زيان مخنيوی رښتيا شي... علماء د دغه حديث په تفسير او توجيه کې بېلابېل نظرونه لري:

وايي: موخه يې عادل خلفاء دي، چې ځينې يې په امت کې تېر شوي او ځينې نور به يې د قيامت تر راتګه پورې را شي. امام نووي رحمه الله له قاضي عياض څخه رانقلوي: کېدای شي چې له دغو ۱۲ خلفاوو څخه موخه يې هغه عادل خلفاء وي، چې د خلافت مستحق دي؛ لکه څنګه چې ځينې يې تېر شوي او ځينې نور به يې د قيامت تر راتګ وړاندې پوره شي.

نووي رحمه الله له قاضي عياض څخه رانقلوي: اټکل کېږي چې د حديث موخه هغه څوک وي، چې په خپل وخت کې يې اسلام ته پراختيا ورکړې وي او ټولو مسلمانانو منلی وي؛ لکه څنګه چې د ابو داود په سنن کې راغلي: (كلهم تجتمع عليه الأمة) يعنې امت به پر دوی هر يوه راټول شي.»

سيوطي نقلوي چې موخه يې: د اسلام په ټول دوران کې تر قيامت پورې د ۱۲ خلفاوو شتون دی، چې حق پلی کوي، ان که پرله‌پسې هم نه وي.

په فتح الباري کې راغلي: په دغو ۱۲ خلفاوو کې څلور يې راشده خلفاء تېر شوي او نور به يې د قيامت تر راتګ وړاندې بشپړ شي.

ابن کثير وايي: دغه حديث د هغو ۱۲ خلفاوو په اړه زېری ورکړی، چې حق حاکموي او د امت تر منځ عدالت کوي، د هغوی ترمنځ پرله‌پسې‌والی لازمي نه دی؛ بلکې څلور تنه يې په پرله‌پسې توګه تېر شوي دي، چې له اربعه خلفاوو څخه عبارت دي: ابوبکر، عمر، عثمان او علي. همدارنګه د علماوو په نزد عمر بن عبدالعزيز او يو

شمېر نور عباسي خلفاء هم له همدغو خلفاوو څخه دي او قيامت تر هغه پورې نه راځي، ترڅو چې دغه ۱۲ خلفاء پر ځمکه خلافت ونه کړي او دا واضح ده چې «مهدي» هم د هغوی له ډلې څخه دی، چې په احاديثو کې يې په اړه زېرى ورکړل شوی دی.

## اې د خير امته او اې د خلافت بچيانو!

په يوه حديث کې وينو چې د «خليفه» لفظ څو ځله راغلی دی او هغه کس ته ويل کېږي چې په بشـــپړه توګه قدرت او رهبري په لاس کې لري او دا چې په حديث شريف کې د دين قايمول بيانوي، په حقيقت کې تمکين، ســـيادت، نفوذ او پر موافقو او مخالفو خلکو د دين غلبه ده. پر همدغه اســـاس د دوکه کوونکو فرېب او د ملامتوونکو ملامتيا ورته زيان نشيـ رسـولی... نو اسـلام په حقيقت کې دين، منهج او د حاکم دولت د حکامو او رعيت اصلي مرجع ده.

حديث شريف دغه خلفاء يوازې له دې امله غوره نه دي ګڼلي، چې ګواکي د هغوی په دوره کې اسلام عزتمن و؛ چې هدف يې يوازې د هغه وخت دوره وي، پرته له دې چې د دولت د مشرـانو او حکامو شـخصـيتونه په پام کې ونيسي؛ بلکې دا يو غيبي پيغام دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې خبر ورکړی دی.

دين په هغه وخت کې حاکم پاتې کېده او پر هغو کسانو به ظاهر او غالب کېده، چې دوی به د تمدن او دولت د دين په توګه د اسلام د له منځه وړلو، د دين په اړه د خلکو د ګمراه کولو، يا يې پر ضد د را پارولو او يا يې هم په اسلامي مسايلو کې د شک پيدا کولو لپاره کار کاوه.

د دولت د غالبيت، ظهور او عزت مظاهر دا دي، چې که چېرې کورني او يا بهرني دښـــمنان يې د له منځه وړلو لپاره هر څومره هڅې وکړي، خو اسلام ته د يو دين په توګه هېڅ زيان ونشيـ رسـولی. دغه مخالفين کېدای شي د اهل کتابو مشرکين وي يا د کفري نظامونو؛ لکه امريکا، انګليس او داسې نورو له خوا ګومارل شوي دښمنان، مګر له ټولو هڅو سره سره بيا هم اسلام ته زيان ونه شي رسولی. الله سبحانه وتعالی په دې اړه فرمايي:

**﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ فَسَيُنفِقُونَهَا ثُمَّ تَكُونُ عَلَيْهِمْ حَسْرَةً ثُمَّ يُغْلَبُونَ وَالَّذِينَ كَفَرُوا إِلَىٰ جَهَنَّمَ يُحْشَرُونَ﴾** [انفال: 36]

*__ژباړه:__ کافران خپل مالونه مصرفوي، ترڅو (خلک) د الله له لارې (او پر الله سبحانه وتعالی له ايمان څخه) را وګرځوي. هغوی به خپل مالونه مصرف کړي، خو وروسته به يې د پښېمانۍ لامل شي او ماتې به هم وخوري. له شک پرته چې ټول کافران به دوزخ ته ورټول کړل شي.*

همدارنگه بېلتون غوښــتونکي او هغه کســان اســلام ته زيان ونه شي رســولی، چې له دولت څخه يې لرې او يا ډېر انحراف کړی وي؛ يعنې هغه که واقعي پيروان وي او يا منافقين.

اسـلامي دولت د منصـور په وخت کې تر هغه وروسـته ځواکمن شـو، چې ابومسـلم خراسـاني يې له منځه يوړ او همدارنگه د هارون الرشـيد په دوره کې هم اسـلامي دولت قدرتمند و. په داسـې حال کې چې ځينې مخالفين ځواکمن شول، په فتحه شويو سيمو کې يې د نفوذ لپاره هڅې پيل کړې او د اسلامي دولت په دستگاوو کې يې ريښـې وغځولې، نږدې و چې په بشـپړه توگه قدرت تر لاسـه کړي. لکه څنگه چې برمک‌يانو همداسـې وکړل، خو وروسته بيا د هارون الرشيد له خوا وځپل شول.

په همدې توگه موږ وينو، کوم څه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې خبر ورکړی، هغه د ۱۲ خلفاوو په دوره کې ليدل شــوي دي. پر همدغه اســاس اســلام په هغه وخت کې عزت‌من و او له اســلام پرته هر څه له ذلت او خوارۍ سره مخ وو. د اســـلام دين به د قيامت تر راتگ وړاندې يو ځل بيا حاکم شي او هغه مطلق ظهور چې له دغه حاکميت سره مل دی، په هغه وخت پورې محدود دی چې دغه ۱۲خلفاء پکې واکمن وي.

د يادولو وړ ده چې مهمه موضوع د خلفاوو شمېر نه دی. د موضوع د روښانه کېدو لپاره مسلم له عمار رضی الله عنه څخه حديث روايت کړی: «فِي أُمَّتِي اثْنَا عَشَرَ مُنَافِقًا لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ؛ زما په امت کې ۱۲منافقين دي، چې جنت ته به نه داخلېږي.» اوس پوښـــتنه مطرح کېږي چې ايا په امت کې يوازې همدا ۱۲ منافقين دي، که يې شمېر ډېر دی؟ د دې پوښتنې ځواب دا دی چې د منافقينو شمېر تر ۱۲ کسانو ډېر دی. همدارنگه ويل کېږي: د خلفاوو شمېر هم تر ۱۲ کسانو ډېر دی، خو د دغو ۱۲ خلفاوو يادونه په خاصه توگه ځکه شوې، چې د دوی په وخت کې د اســـلام عزت زيات او پراخ و. له دې پرته د ډېرو نورو خلفاوو يادونه هم کولی شـــو، چې د دوی د حکومتونو په وخت کې اســـلام غالب او عزتمن و. د بېلگې په توگه د مســـلمانانو د مخکنيو خلفاوو په پرتله د عثمانيانو د غوره‌والي لپاره همدا بسنه کوي، چې دوی د اروپا ډېره برخه فتحه کړه.

مسلمانان، حکام او علماء ټول په يوه ډگر کې دي او د اسلام له عقيدې دفاع کوي، اميران يې صالح دي، اسلام پلی کوي او د دعوت او جهاد له لارې يې ټولې نړۍ ته رسوي. علماء او فقها يې خلکو ته اسلام ور زده کوي او تر منځ يې خبرې کوي، حکام محاســـبه کوي او نصـيحت ورته کوي او د هېڅ ملامتوونکي له ملامتيا څخه نه وېرېږي. مسـلمانان د اسـلام له حاکميت څخه گټه اخلي. اسـلامي امت، وسـط امت دی او د ټولو امتونو په سر کې ځای لري او پر ټولې نړۍ شاهد دی. لکه څنگه چې الله سبحانه وتعالی هم د دغه امت ستاينه کړې او دغه مقام يې ورکړی دی:

﴿ **وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِّتَكُونُواْ شُهَدَاء عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً**﴾ [بقره: 143]

***ژباړه:*** *له شک پرته تاسو مو وسط امت کړئ، چې پر خلکو شاهدان وئ او پیغمبر پر تاسو شاهد وي.*

د مسـلمانانو ټول بچیان، چې علما یې یوه برخه ده، باید پوه شي چې یوازې فردي دعوت ورته بسـنه نه کوي او په یوه ډله کې باید کار وکړي؛ هغه ډله چې د اسـلامي امت د بیدارۍ لپاره فعالیت کوي او امت د هر اړخیر بدلون لپاره رهبري کوي. هغه ډله چې د دین د راپورته کېدو لپاره هڅې کوي، ترڅو د لومړي خلافت دولت په څېر د امت دین د دولت په چوکاټ کې حاکم شي او په دې توګه الله سـبحانه وتعالی امت ته نصرـت ورکړي او مسـلمانان یو ځل بیا خپل لومړي حالت ته وګرځي. دا هغه غوره امت دی چې د خلکو لپاره یې حرکت کړی، ترڅو د الله سبحانه وتعالی په مرسته اسلام ته عزت ورکړي! الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿**قُلْ هَـذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَاْ وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللّهِ وَمَا أَنَاْ مِنَ الْمُشْرِكِينَ**﴾ [یوسف: 108]

***ژباړه:*** *ووایه دا زما او زما د پیروانو لاره ده او په پوره بصیرت سره ورته خلک رابولم، الله پاک او سپېڅلی بولم او له مشرکانو څخه نه یم.*

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**